# د اعلیٰ حضرت

## بنکلي عادتونه

**30-AUGUST-2024**



## د یومِ رضا د اجتماع بیان

FOR ISLAMIC BROTHERS

د یومِ رضا د اجتماع بیان

30 اګست کال 2024ء (بمطابق: د 24 او 25 صَفرُ المُظفر ترمینځه شپه، 1446ھ)

# د اعلیٰ حضرت ښکلي عادتونه

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ❀--- د وظیفے صَندوقچه یا غیبي خزانه
- ❀---د غیبي خزانے موندلو اسانه نُسخه
- ❀--- اعلیٰ حضرت او د جومات اِحترام
- ❀--- مَړي ته پهٔ قبر کښې وړومبۍ تحفه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنټر)
(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback:*+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: لَا تُصَلُّوْا عَلَيَّ الصَّلٰوةَ الْبَتْرَاءَ يعني پهٔ ما باندې نمکړے دُرُودِ پاک مهٔ لولئ، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم عرض وکړو: يا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا نمکړے دُرُودِ پاک څهٔ دے؟ د دوارو جهانونو سلطان، رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: تَقُوْلُوْنَ اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَتَمْسِكُوْنَ نمکړے دُرُود دا دے چې تاسو زما پهٔ آل باندې دُرُود اونه لولئ او صرف اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ پورې ولولئ او بيا ودريږئ۔ بيا يې وفرمائيل: د دې پهٔ ځائے داسې لولئ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ۔[1]

اُن کے مولیٰ کی اُن پر کروڑوں درود | اُن کے اَصحاب و عِترت پہ لاکھوں سلام
پارَہائے صُحُف غُنچہائے قُدس | اہلِ بیتِ نبوت پہ لاکھوں سلام ( 2 )

**وضاحت:** پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دې د الله پاک د

1...الصواعق المحرقہ، ص146۔
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:325۔

طرف نه کروړونه درود او د هغوئي په اصحابو، اهلِ بیتو، عزیزانو او خپلوانو باندې دې لکونه سلامونه نازل شي، د نبي پاک صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اهلِ بیت د اسماني صحیفو د حصو په شان دي هغوئي د مقدسو او پاکو ګل غوټو په شان دي، په هغوئي باندې دې په لکونو سلامونه نازل شي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے۔[1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ په اَدب به کښینم ❀ ښۀ په توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش به کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د وظیفے صندوقچه یا غیبي خزانه

یو ځل اعلیٰ حضرت، اِمام اهلِسُنَّت شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل خلیفه حضرت عبدُ السَّلام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بلنه باندې جَبَل پور ته تشریف یوړلو۔ حضرت مولانا عبدُ السَّلام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سپینو چینو په یو غټ پلیټ کښې **یو زر روپۍ** کیښودې او هغوئي ته یې د نذرانې په طور وړاندې کړې۔

---

[1] ...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

هغه وخت کښې **یو زر روپۍ** ډېر غټ رقم وو- اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیه دا نذرانه قبوله کړه او حاجي کفایت الله صاحب ته یـې وفرمائیل: دا کیږده او زما د وظیفے صندوقچه راوړه---!!
دا تقریباً یو فټ لوړه صندوقچه وه، دا اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیه ته د هغوئي پیر صاحب عطا کړې وه، په دې کښې یـې لیکلے شوې وظیفے کیښودې وې، هغوئي به د سحر د نـمونځ نه پس دا وظیفے لوستلې، د دې نه علاوه په دې صندوقچه کښې نۀ د څۀ د کیښودو ځائے وو او نۀ به پکښې څۀ کیښودلے کیدل-
خیر! حاجي کفایتُ الله صاحب هغه صندوقچه وړاندې کړله- اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیه هغه خپلې مخې ته کیښودله او سر یـې ترینه لرې شان اوچت کړو او لاس یـې وردننه کړو، اَللّٰهُ اَکْبَر---!! داسې ښکاریدله چې هغه صندوقچه نۀ بلکې څۀ غیبي خزانه ده---!! اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیه به د هغې نه پیسې راویستلې او د مولانا عبدُ السَّلام رحمۃُاللہِعلیه ټولو ملازمانو له به یـې ورکولې- اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیه ډېر په غټ زړۀ سره پیسې تقسیم کړې، بیا یـې په دې باندې بس نه کړل بلکې ❁ د مولانا عبدُ السَّلام رحمۃُاللہِعلیه کور ودانې ❁ د هغوئي اینګور ❁ او د هغوئي د لوڼو د پاره یـې کالي هم د هغې صندوقچې نه راویستل او ور یـې کړل ❁ د ټولو نه کشر ځوي له یـې ګنډلے شوې جامې او ټوپۍ هم راویستله او ور یـې کړله-
مولانا حسنین رضا خان صاحب رحمۃُاللہِعلیه فرمائي: یواځې د مولانا عبدُ السَّلام د پاره نۀ بلکې د خاص خاص سیټانو د لوڼو د پاره یـې هم کافي کالي د هغه صندوقچې نه راویستل او ور یـې کړل، مونږ ټول حیران وو چې دا کالي اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیه کله اخستې او کله

يـې پۀ دې صندوقچه کښې کيښودي دي- (1)

کسی کا در دیکھتے نہیں ہیں، کسی سے کچھ مانگتے نہیں ہیں
بڑی غنی ہیں، بڑے سخی ہیں فقیر آقا تری گلی کے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د غيبي خزانے موندلو اسانه نُسخه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ دې وړه شان صندوقچه کښې دا خزانه د چرته نه راغله؟ څنګه راغله؟ دا د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ کرامت دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د الله پاک وَلي هغۀ وي چې ❀ دُنيا ته نه ګوري ❀ پۀ الله پاک باندې کامِل باور لري ❀ هُغه طرف ته پوره توجه کوي ❀ د الله پاک نه ښه ډير ويريږي ❀ تقویٰ کوي نو الله پاک دوئي ته د غيبو نه اسباب جوړوي- الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۙ﴿۲﴾ وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ؕ (پارہ:28، سورۂ طلاق:2،3) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې د الله نه وَيريږي الله به د هغۀ د پاره د وتلو لار جوړه کړي- او هغۀ ته به د هُغه ځائے نه روزي ورکوي چرته چې د هغه ګُمان هُم نه وي- |

اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د دَستِ غيب (يعني د غيبي رزق او د روزۍ ميلاويدو) د پاره خلق ډيرې ګرانې ګرانې وظيفے کوي بلکې پۀ وهمي خبرو کښې اخته کيږي خو د دې د ټولو نه اعلیٰ عمل، قطعي عمل، يقيني عمل د کومې اُلټا چې ممکن نه دے او پۀ ټولو اعمالو کښې ډير اسان دے، دا پخپله الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې ارشاد کړے دے چې

---

1...فیضانِ اعلیٰ حضرت، ص177۔

څوک د الله پاک نه ویریږي، تقویٰ او پرهیزګاري اِختیار کړي، الله پاک د هغهٔ د پاره د هرې سختۍ نه د نجات لار ورکوي او هغهٔ ته به د هُغه ځائے نه رزق ورکوي، د چرته نه چې به د هغهٔ ګمان هم نه وي۔ (1)

تمہاری شان میں جو کچھ کہوں اُس سے سِوا تم ہو
قَسیمِ جامِ عِرفاں اے شَہِ احمد رضا تم ہو
عیاں ہے شانِ صدیقی تمہاری شانِ تَقْوٰی سے
کہوں اَتْقٰی نہ کیوں کر جبکہ خَیْرُ الْاَتْقِیَاء تم ہو
علیمؔ خَستہ اک ادنیٰ گدا ہے آستانہ کا
کرم فرمانے والے حال پر اس کے شہا تم ہو

**وضاحت:** اے زما پیر او مرشده! ستاسو پهٔ شان کښې چې څهٔ هم ووایم، ستاسو شان د هغې نه ډیر زیات اوچت دے، تاسو خو د الله پاک د معرفت جامونه تقسیموونکي یئ، ستاسو تقویٰ ته چې وګورم نو د حضرت صدیقِ اکبر رضی اللہ عنہ یاد تازه شي، تاسو ته د ټولو نه لوئې متقي او پرهیزګاره ولې اونه وایم؟ تاسو خو ما ته د ټولو نه زیات متقي او پرهیزګاره ښکارئ، دا (عبد) علیم (میرټهي) ستاسو د دَر یو ادنیٰ شان ګدا دے، هم تاسو د دهٔ پهٔ حال باندې د کرم نظر کوونکي یئ۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دشاه عبدالعلیم میرټهي رحمۃ اللہ علیہ تذکره

**خوږو اِسلامي ورونو!** اوس چې مونږ د منقبت کوم اشعار واوریدل داد اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د خلیفه مُبَلِّغِ اسلام عبدالعلیم میرټهي رحمۃ اللہ علیہ دي ❀ هغوي رحمۃ اللہ علیہ

1...فتاویٰ رضویہ،ج۲۱۔

ديني دنياوي علم لرونکے❀دخو ژبو ماهر❀د درځن نه د زياتو کتابونو مُصَنِّف❀بهترين خطيب❀اويو ماهرعالم دين وو❀دوي د اسلام د تبليغ دپاره ددنيا د ډيرو ملکونوسفر وکړو❀ددوي په کوششونو سره داقتدار د خاوندانو په شمول تقريباً50زره غيرمسلمه مسلمانان شول❀دوي په کال1310هجري کښې دهندوستان په ښار ميرټه کښې پيداشول او په22ذوالحجه کال1374هجرئ کښې ئې په مدينه منوره کښې انتقال وشو❀او تدفين ئې په جنّت البقيع کښې وشو.

## د احسان بدله ورکوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ د دې کرامت والا واقعې نه دوه خبرې د زدکړې د پاره ميلاؤ شوې: (1): اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ ډير تقویٰ دار وو، د الله پاک ډير زيات قرب لرونکے وو، ځکه خو د رَبِّ رحمان پۀ هغوئي باندې عنايت وشو او غيبي خزانه ورته عطا کړے شوه (2): دويمه خبره د زدکړې د پاره دا ميلاؤ شوه چې که څوک زمونږ سره نيکي وکړي نو مونږ له پکار دي چې د هغې پۀ بدله کښې د هغوئي سره د هغې نه زياته نيکي وکړو- وګورئ چې مولانا عبدُ السَّلام رحمۃُاللہِ علیہ يو زر روپۍ نذرانه وړاندې کړله نو اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ هغوئي له صرف زر روپۍ ورنکړلې بلکې ❀ مولانا عبدُ السَّلام رحمۃُاللہِ علیہ ❀ د هغوئي کور والا ❀ اينګور لونه ❀ ټول ملازمان يې پۀ روپو، پيسو او کالو باندې مالا مال کړل-

سُبْحٰنَ الله! دې ته سخاوت وئيلے شي--!!

وَ فِیْٓ اَمْوَالِھِمْ حَقٌّ ہر اِک سائل کا حق ٹھہرا
نہیں پھرتا کوئی محروم ایسے باسخا تم ہو

بھکاری تیرے در کا بھیک کی جھولی ہے پھیلائے
بھکاری کی بھرو جھولی گدا کا آسرا تم ہو

وضاحت: د الله پاک د فرمان وَ الَّذِيْنَ فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ ([مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغه د کومو پهٔ مال کښې چې يو معلوم حق دے- (پاره:29، سورهٔ معارج:24)) مطابق د مالدارو پهٔ مال کښې د هر غريب حق وي، آقا تاسو خو داسې سخي يئ چې ستاسو د دربار نه څوک خالي لاسونه نه ځي، دا (عبدُ العَليم) ستا د در سوالګيرے جولۍ غوړولے ولاړ دے، د دهٔ جولۍ ډَکه کړئ چې د دهٔ اسرا هم تهٔ يې-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ښکلے سُنَّت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له هم پکار دي چې که څوک پهٔ مونږ باندې عنايت وکړي، څهٔ تحفه راله راکړي، څوک راسره څهٔ نيکي وکړي نو د هغې پهٔ بدله کښې مونږ هم هغهٔ له تحفه ورکړو بلکې سُنَّت طريقه دا ده چې تحفه ورکوونکي ته د هغې نه غټه تحفه ورکړے شي- آؤ جي! زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم دا انداز مبارک وو، که چا به د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې څهٔ تحفه وړاندې کړله نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغوئي ته د هغې نه غټه تحفه عطا کوله- د حديثِ پاک پهٔ مشهور کتاب ترمذي شريف کښې دي: يو باندېچي خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته يو اوښ پهٔ تحفه کښې وړاندې کړلو نو هغوئي هغهٔ ته د شپږو اوښانو تحفه عطا کړله- (1)

بعضې وخت داسې کيږي چې بَل کس مونږ له تحفه راکړي خو زمونږ سره د ورکولو د

[1] ...ترمذی، حدیث:3945۔

پاره څۀ نه وي، اوس به څۀ کوو؟ پۀ داسې موقع باندې دې هغۀ ته دعاګانې وکړے شي چې دُعا د مؤمِن وسله ده- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-
اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اے د رضا عاشقانو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! نن د 25 صَفَرُ الۡمُظَفر شپه ده- د سُنيانو د پيشوا اعلیٰ حضرت اِمام اهلِسُنَّت شاه اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د عرس شريف شپه ده- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه څوک دے؟ ❁ هغوئي د عاشقانو اِمام دے ❁ د سُنيانو اِمام دے ❁ د عالمانو اِمام ❁ د عابدانو اِمام ❁ د زاهدانو اِمام ❁ د تقویٰ والؤ اِمام ❁ د فُقَها، مُحَدِّثينو، مُفَسِّرينو اِمام دے ❁ هغوئي مُجتَهِد وو ❁ مُفَسِّر وو ❁ مُحَدِّث وو ❁ ډير لوئي عالِم وو ❁ ډير ذهين مفتي وو ❁ د قرآن حافظ وو ❁ او د ټولو نه زيات د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے عاشق وو-

| | |
|---|---|
| ایک سچا عاشقِ نورِ مجسم بولیے | ان کو ان کے عہد کا سالارِ اعظم بولیے |
| جن سے ہوں آباد علم و آگہی کی بستیاں | ہیں جنم لیتی کئی صدیوں میں ایسی ہستیاں |
| فضلِ ربّ العالمین ہوتا ہے جب بے انتہا | تب کوئی بنتا ہے دنیا میں اِمام احمد رضا |

پۀ 10 شوال کال 1272 هجری مطابق 14 جون کال 1856ء هغوئي د هندوستان پۀ بريلي ښار کښې دُنيا ته تشريف راوړلو ❁ هغوئي د دِيني او علمي کورنۍ شمع وه ❁ د هغوئي نوم محمد دے، د هغوئي د والد صاحب د اړخه نيکه بابا جان به هغوئي د احمد رضا پۀ نوم سره رابللو، وروستو هم پۀ دې نوم مشهور شو ❁ د 4 کالو پۀ عمر کښې يې د قرآنِ کريم ناظره ختمه کړله ❁ صرف د 13 کالو 10 مياشتو 4 ورځو عمر کښې يې دِيني عِلم مکمل کړو او وړومبۍ فتویٰ يې وليکله ❁ اندازتاً د 70 نه پۀ زياتو علومو کښې يې څهکم يازيات 1000 کتابونه وليکل ❁ د قرآنِ کريم ترجمه کَنزُ الاِيمان ❁ فتاویٰ رضويه ❁ حدايقِ

بخشش، د هغوئي عِلمي او ادبي کارنامې دي ❁ اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ دوه کرته د حج سعادت حاصل کړو ❁ په دویم ځل چې کله د رسول الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم روضې مبارکې ته حاضر شو نو خوږ آقا صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغوئي ته د سر په سترګو خپل دیدن عطا کړلو ❁ تقویٰ او پرهیزګاري یې دومره وه چې یواځې د فرائضو او واجباتو په سختۍ سره پابند نۀ وو بلکې سُنَّت او نفلونه او مُستَحَبّات به یې هم نه پریښودل ❁ کم خوراک به یې کولو، کم به اوده کیدلو ❁ اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ په 25 صفر المظفر کال 1340 هجری مطابق کال 1921ء د جُمعې په ورځ د دې فاني دُنیا نه سفر وکړو ❁ د هغوئي مزار په بریلي شریف کښې دے- په 25 صفر المظفر په ټوله دُنیا کښې د هغوئي عرس کولے شي- (1)

تُو نے باطل کو مٹایا اے اِمام احمدرضا
دین کا ڈنکا بجایا اے اِمام احمدرضا
اہلِ سنّت کا چمن سر سبز تھا شاداب تھا
تازگی تُو اور لایا اے اِمام احمد رضا
تُونے باطل کو مٹا کر دین کو بخشی جِلا
سنّتوں کو پھر جِلایا اے اِمام احمدرضا
حشر تک جاری رہے گا فیض مرشِد آپ کا
فیض کا دریا بہایا اے اِمام احمدرضا (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رښتینو سره د کیدلو د قرآن حکم

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک په قرآنِ کریم کښې مونږ ته د رښتینو سره د کیدلو حکم کړے دے- په 11 سیپاره، سورۀ توبه، آیت: 119 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! د الله نه ویریږئ او د رښتینو سره شئ- |

1...فیضانِ اِمامِ اہلسنت، خصوصی شمارہ، ص22 تا24 ملخصاً بتصرف۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:452۔

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃُ اللہِ علیہ چې د دې آیت کوم تفسیر بیان کړو، د هغې مطابق په دې آیت کښې د صادقین (یعني رښتینو) نه 3 قِسمه خلق مُراد دي: (1): صحابهٔ کرام (2): عاشقانِ رسول عُلَما او (3): اولیائے کرام۔ اوس به د آیت معنیٰ دا جوړیږي: اے ایمان والؤ! د صحابؤ سره شئ، اے ایمان والؤ! د علماؤ سره شئ، اے ایمان والؤ! د اولیاءُ الله سره شئ۔ [1]

نور فرمائي: بیا په دې ځائے کښې د پوهې یوه بله خبره ده، هغه دا ده چې **سره کیدلو** نه څهٔ مُراد دے؟ عموماً د چا سره د کیدلو دوه مطلبونه وي: (1): جسماني طَور ورسره کیدل (2): د زړهٔ په طور ورسره کیدل۔ یقیناً چې په جسماني طور باندې د **صحابهٔ کرامو** رضی اللہُ عنہم قُرب حاصل شي، د عاشقانِ رسول علمائے کرامو صحبت نصیب شي، د اولیائے کرامو صحبت نصیب شي نو بے شکه دا ډیره د سعادت خبره ده خو په آیت مبارک کښې صرف په جسماني طور ورسره کیدل مُراد نه دي بلکې د دې نه مُراد دے: د زړهٔ نه د صحابهٔ کرامو، علمائے کرامو او اولیائے کرامو سره ورسره کیدل۔ مقصد دا دے چې اے ایمان والؤ! د صحابهٔ کرامو سره، د علماؤ سره، د اولیاؤ سره ❀ د زړهٔ نه محبت ساتئ ❀ کومې عقیدے چې د دوئي دي، هغه عقیدے اختیار کړئ ❀ د دوئي چې کوم نظریات دي، هغه نظریات اختیار کړئ ❀ د دوئي په تعلیماتو باندې عمل وکړئ ❀ د دوئي په شان اخلاق اختیار کړئ ❀ د دوئي په شان کردار جوړ کړئ ❀ د دوئي د سیرت نه رڼا حاصله کړئ ❀ په ظاهر کښې ❀ په باطن کښې په هر لحاظ سره د دوئي سره محبت وکړئ ❀ دا پاک بندګان چې د کومې لارې مسافر دي، تاسو هم د هغې لارې مسافر جوړ شئ ❀ او په کوم انداز چې دوئي ژوند تیر کړے دے، تاسو هم د هغې نه راهنمائي حاصله کړئ او هم په

[1]… تفسیر نعیمی، پارہ:11، سورۂ توبہ، آیت:119، جلد:11، صفحہ:123-128۔

ځغه انداز ژوند تیر کړئ! (1)

مجھے اَوْلیا کی محبت عطا کر | تُو دیوانہ کر غوث کا یااِلٰہی (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُلِلّٰہ! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه هم وَلِيِّ كامِل دے، هغوئي هم ربنتونے، د هغوئي عقيدے هم ربنتوني، د هغوئي نظريات هم ربنتوني، د هغوئي تعليمات هم ربنبتوني او د هغوئي هره يوه ادا هم د سُنَّتِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آئينه داره او د ربنتوني لارې نخښه ده-

جن کی ہر ہر ادا سنّتِ مصطفیٰ | ایسے پیر طریقت پہ لاکھوں سلام

راځئ چې د قرآن په حکم باندې د عمل کولو په نيت سره د يو وَلِيِّ كامِل د يو څو مباركو عادتونو اوريدو سعادت حاصل كړو او نيت وكړو چې مونږ به هم د هغوئي نيكې اداګانې اختيارُوو او د خپل ژوند د ښه كولو كوشش به كوو-

## د سُنَّتو پابند

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د مقدسو عادتونو يو خاصيت دا دے چې هغوئي د خپل ژوند بنياد په سُنَّتِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې كيښودے وو، په هر يو كار كښې به يـې د سُنَّت اختيارولو پوره كوشش كولو او په كوم كوم انداز كښې، په څنګه څنګه حالاتو كښې به يـې په سُنَّتو باندې عمل كولو؟ واورئ! د سيِّد ايوب علي صاحب بيان دے: يو ځل د سحر د نـمونځ وخت وو، خلق د جَمعې په انتظار ناست وو، خلافِ عادت نن اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په راتلو كښې لږ ناوخته كړو، د ټولو خلقو نظر د هغوئي د كور طرف ته وو- ځغه وخت اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه زر زر تشريف راوړلو- ځغه

---

1 ...تفسیر نعیمی، پارہ:11، سورۂ توبہ، آیت:119، جلد:11، صفحہ:123-128۔
2 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:106۔

وخت مولانا قَناعت علي ما ته ووئيل: پهٔ دې تنګ وخت کښې وګوره چې اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ ښیٰ ښپه پهٔ جومات کښې وړومبے ږدي او که ګڅه--!! بيا زمونږ نظر د هغوئي د ښپو مبارکو طرف ته وو- سُبْحٰنَ الله! قربان شم! د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د سُنَّتو سره څومره ځانګړے محبت وو ❁ بيا چې جومات ته کوم وخت ښپه مبارکه رارسي نو ښیٰ ښپه ❁ د جومات پهٔ فرش ښپه ږدي نو هم ښیٰ ښپه ❁ د فرش د يوې حصے نه چې بلې حصې ته کومه ښپه رسي نو هغه هم ښیٰ ښپه ❁ وړاندې پهٔ دالان کښې يو صف غوړيدلے وو، پهٔ هغې چې ښپه ږدي نو هم ښیٰ ښپه او پهٔ دې باندې يــې بس نه کړل ❁ پهٔ هر صف باندې يــې وړومبے ښیٰ ښپه کيښودله ❁ تر دې پورې چې مِحرَاب ته يــې تشريف راوړلو ❁ پهٔ مصله باندې چې يــې ښپه کيښودله نو هغه هم ښیٰ ښپه وه-[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! سُنَّت خو دا دې چې کله جومات ته داخل شې نو وړومبے ښیٰ ښپه دننه کيږدې، د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د سُنَّت سره محبت ته وګورئ چې څومره هم تادي وي، پهٔ ظاهره د بے خيالیٰ ډير امکان وي خو ❁ د هغوئي پهٔ سوچونو کښې ❁ د هغوئي پهٔ عادتونو کښې ❁ د هغوئي پهٔ خيالونو کښې به هر وخت د سُنَّتو تصورات اوسيدل، پهٔ داسې تادیٰ کښې هم د جومات پهٔ هره هره حصه باندې د ښیٰ ښپې نه ابتدا کوي-

کاش چې زمونږه هم د جومات داسې ادب نصيب شي- آه! نن سبا خو حالات ډير خراب شوي دي، خلقو ته د جومات د احترام ډيره کمه پته وي- ❁ جومات ته د داخليدو سُنَّت څهٔ دي؟ ❁ د جومات نه د بهر وتلو سُنَّت څهٔ دي؟ ❁ جومات کښې د ايساريدو سُنَّت څهٔ دي؟ ډيرو کمو خلقو ته د دې معلومات وي، بيا حالاتو ته هم وګورئ! ❁ څوک پهٔ جومات

---

[1]...فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:425-

کښې خبرې کوي ❀ څوک تیزې تیزې خبرې کوي ❀ فضول ګپونه لګوي ❀ میوزیکل ټیونز په جومات کښې غږیږي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! جومات د شیطان نه د بچ کیدو مضبوطه قلعه ده خو افسوس چې مونږ سُنَّت نۀ اختیاروو نو دلته هم د نفس او شیطان په جال کښې انښلو، افسوس! ❀ اوس خو په جوماتونو کښې جنګ جګړې هم کیږي ❀ غیبتونه هم کیږي ❀ چغلیانې هم کیږي ❀ توقې تقالې هم کیږي- حدیثِ پاک واورئ! او سوچ وکړئ، عبرت حاصل کړئ چې دا څومره سخته ګناه ده-

## د هغوئي د الله پاک سره هیڅ کار نشته

آخري نبي، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: په خلقو باندې به یوه زمانه داسې راځي چې په جوماتونو کښې به د دُنیا خبرې کیږي، تاسو د هغوئي سره مۀ کښینئ چې د هغوئي د الله پاک سره هیڅ کار نشته- (1)

## مُباح خبرې نیکئ خوري

حضرت ملّا علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل فرمائي: اَلْكَلَامُ الْمُبَاحُ فِي الْمَسْجِدِ مَكْرُوْهٌ يَاكُلُ الْحَسَنَاتِ- یعنې په جومات کښې مُباح (جائز) خبره کول مکروهِ (تحریمي) ده او نیکئ خوري- (2)

آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اَلضِّحْكُ فِي الْمَسْجِدِ ظُلْمَةٌ فِي الْقَبْرِ یعنې په جومات کښې خندل په قبر کښې تیارۀ (راولي)- (3)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ له د جومات احترام کول پکار دي ❀ جومات د الله پاک کور دے ❀ د عبادت ځائے دے ❀ د الله پاک په یاد کښې د ورکیدو ❀ د دُنیا نه د

---

1...(شُعَبُ الایمان ج۳ص۸۷ حدیث ۲۹۶۲-
2...(مرقاۃ المفاتیح ج۲ص۴۴۹)-
3...الجامع الصَّغیر ص۳۲۲ حدیث ۵۲۳۱-

کتې کېدو سره د خپل رَبّ په لور د مائله کېدو ځائے دے ❁ که په داسې مقدس ❁ داسې پاک ❁ او ډېر د اوچتې مرتبے ځائے کښې هم مونږ ګناه کوو، بے ادبي کوو نو آخر په کوم ځائے کښې به ټیک کیږو---؟ ځکه د جومات د احترام عادت جوړ کړئ!

## اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه او د جومات احترام

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه عادت مبارک وو چې جومات ته به داخلیدو نو همیشه به یې ښی ښپه مخکښې کوله ❁ بهر چې به وتلو نو وړومبے به یې ګڅه ښپه په پیزار کښې کینښودله، بیا به یې په ښی ښپه پیزار په ښپو کولو (د پاره د دې چې د سُنَّت مطابق عمل وشي) ❁ چې کله به یې هم جومات ته تشریف راوړلو نو همیشه به په مینځنی دروازه داخلیدلو، بعضې وخت به یې په جومات شریف کښې د پیدل تللو سره اَوراد او وظیفے لوستلې نو د شمال نه به جنوب او د جنوب نه به شمال طرف ته تللو او انداز مبارک به یې داسې وو چې د شمال نه د جنوب طرف ته یا د جنوب نه د شمال طرف ته د تاویدو په وخت به یې د کعبے طرف ته نه شا کوله ❁ اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه به په جومات کښې په فرش باندې په پوندو او غټه ګوته باندې ګرځیدلو او نورو ته به یې هم نصیحت کولو چې د جومات په فرش باندې د تللو په وخت اواز پیدا کیدل نه دي پکار ❁ یو صاحب چا ته چې به نواب صاحب وئیلے کیدو، جومات ته د نـمونځ د پاره راغلو او په ولاړه ولاړه یې په بے پرواهی سره خپله اَمسا د جومات په فرش باندې وغورځوله، د کومې اواز چې حاضرینو واوریدلو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه وفرمائیل: نواب صاحب! په جومات کښې په زوره قدم کینښودل هم منع دے، بیا چرته داسې په زوره اَمسا غورځول---؟ نواب صاحب وعده وکړه چې اِنۡ شَآءَاللّٰہُ الۡکَرِیۡم! آئنده به داسې نه کیږي۔ (1)

---

1...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:325۔

آنے دیتے تھے تساہل کو نہ دینی کام میں | کیونکہ بے حد سخت تھے وہ شرح کے احکام میں
باجماعت کرتے مسجد میں نمازیں وہ ادا | سردی ہو، گرمی ہو، چاہے دور ہو برسات کا
گھر سے اکثر جایا کرتے تھے وہ فرما کر وضو | بیٹھتے تھے باادب مسجد کے اندر قبلہ رُو

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې مونږ ته هم د جومات د ادب او احترام توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په ښي لاس باندې به يې لين دين کولو

د اعلیٰ حضرت اِمام اهلِسُنَّت اِمام اَحمد رضا خان رحمۃُ اللہِ علیہ عادت مبارک وو چې په ښي لاس باندې به يې هر څۀ ورکول او اخستل- مِلکُ العُلماء، خليفه و شاګردِ اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ علیہ مفتي سيِّد محمد ظفَرُ الدين بِهاري رحمۃُ اللہِ علیہ په خپل کتاب حياتِ اعلیٰ حضرت کښې ليکي: که چرې چا له به يې څۀ څيز ورکولو، او هغوئي به کَڼ لاس د اخستو د پاره راوړاندې کړو نو اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ علیہ به فوراً خپل لاس مبارک ودرولو او فرمائيل به يې، په ښي لاس باندې واخلئ، په کَڼ لاس باندې شيطان اخلي-[1]

سنّتِ نبوی کا تھا اِظہار یہ اِک اِک عمل | وہ نِفاذِ شرعِ اسلامی میں کرتے تھے پہل
اَلغرض، وہ تھے صفاتِ عالیہ سے مُتَّصِف | اُن کا ہر سیرت نگار اِس کا رہا ہے مُعْتَرِف
اصل میں وہ تھے تَصَوُّف اور طریقت کے امیں | پھر نہ کیوں اُن کی ہستی قابلِ صد آفریں
تھا نہ تھوڑا بھی تَضاد اقوال اور افعال میں | سنتِ نبوی کی کرتے پیروی ہر حال میں

## په ښي لاس باندې د لين دين عادت جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له هم پکار دي چې که څۀ اخلو، ورکوو، هر يو

1...ماخوذ از حیات اعلیٰ حضرت، 1/189، مرکز اہلسنت برکات رضا- گجرات۔

عزت والا کار وي، په ښي لاس د کولو عادت جوړ کړو- ❁ حضرت ابو هُريره رضی اللہ عنہ فرمائي: نبي کريم صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم ارشاد وفرمائيلو: په تاسو کښې دې هر ګس په ښي لاس باندې خوري او په ښي لاس باندې دې څښي او په ښي لاس باندې دې اخلي او په ښي لاس باندې دې ورکوي ځکه چې شيطان په ګڅ لاس باندې خوري او په ګڅ لاس باندې څښي، په ګڅ لاس باندې ورکوي او په ګڅ لاس باندې اخلي- [1] ❁ د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صِدِّيقه، طيبه طاهره رضی اللہ عنہا فرمائي چې رسول الله صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم به د ښي اړخ نه اودس کول خوښول او هم دغه شان به يې په ښي لاس باندې ګمنځول کول تر دې پورې چې د نعلينو شريفينو [يعني پيزار مبارک] اچولو اراده به يې فرمائيله نو وړومبے به يې ښي ښپه مبارکه په نَعل [يعني پيزار] شريف کښې کينبودله- [2]

صرف دا درې کارونه نهٔ بلکې د عزت او تکريم والا چې څومره هم کارونه دي رسول الله صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم به د هغې د ښي اړخ نه شروع کول خوښول- ❁ جامې اغوستل ❁ جومات ته داخليدل ❁ د سر او بريتو وغيره وينښته کټ کول ❁ مِسواک کول ❁ نوکان کټ کول ❁ په سترګو کښې رانجه اچول ❁ چا له څهٔ څيز ورکول يا څهٔ څيز اخستل ❁ خوراک څښاک وغيره وغيره کارونه په ښي لاس د ښي اړخ نه کول پکار دي- [3]

## په ښي لاس باندې خوراک کوئ!

❁ نبي کريم صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم ارشاد وفرمائيلو: چې کله څوک خوراک کوي نو په ښي لاس دې خوري او چې اوبه څښي نو په ښي لاس سره دې څښي- [4]

---

1...«سنن ابن ماجه»(4/406ت الأرنؤوط):حديث:«3266»-

2...(جامع الترمذى، الشمائل باب ماجاء فى ترجل رسول الله، الحديث5، 34/509)-

3...ماخوذ از رہنمائے جدول، ص210-211-

4...(صحیح مسلم ص1117 حديث:2174)-

❀ د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: یو ګس دې هُم نۀ پۀ ګڅ لاس باندې خوراک کوي نۀ دې څښي چې پۀ ګڅ لاس باندې خوراک څښاک د شیطان طریقه ده۔ [(1)]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❀❀❀ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دُنیا ذِکر کول به یې هم نه خوښول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ یو ډیر ښکلے عادت مبارک دا هم وو چې همیشه به پۀ دِیني کارونو او د آخرت د فائدې والا خبرو کښې مصروف اوسیدلو۔ د دُنیا سره زړۀ لګول، دې طرف ته توجه کول خو ډیره غټه خبره ده، اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به پۀ خپل مجلس مبارک کښې د دُنیا ذِکر هم نه خوښولو۔ صَدرُ الشَّریعَه مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ارشاد فرمائي: د جُمعې د نـمونځ نه پس به ګڼ شمیر حاضرین موجود وو، ❀ عام طور به خلقو د دِیني خبرو پۀ باره کښې پوښتنه کوله او اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به جوابونه ورکول ❀ یا به یې د یو حدیث ❀ یا د آیت پۀ باره کښې بیان فرمائیلو ❀ کله به یې د اولیائے کرامو واقعات بیانول۔ پۀ آستانه کښې حاضرو خلقو کښې څوک داسې نشي وئیلے چې ما اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دُنیا پۀ خبرو کښې مشغول لیدلے دے، همیشه به څۀ نا څۀ دِیني ذِکر کیدلو۔ [(2)]

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلې ادا ده۔ دُنیا د دې قابله چرته ده چې د هغې خبرې وکړے شي، د الله والا د آخرت سره محبت کوونکي وي، ځکه هم د دِین او د آخرت خبرې کوي۔ افسوس چې نن سبا خو د خبرو موضوع صرف دُنیا، دُنیا او هم دُنیا پاتې ده، د چا سره چې کښینې نو ❀ څوک د حکومتونو خبرې کوي ❀ څوک پۀ مشرق کښې ناست وي او د

---

[1]...(صحیح مسلم، (6/109):حدیث:2020)۔

[2]...((فیضان اعلیٰ حضرت ص174))۔

مغرب قیصې کوي ❁ څوک په حالاتو ژاړي ❁ څوک د خپلې دُنیا د کامیابۍ او کارنامو قیصې کوي، کاش چې زمونږ د آخرت فِکر نصیب شي۔

## ذِکر خو د څهٔ څیز کولے شي

یو ځل یو کَس د حضرت رابعه بصریه رحمۃ اللہ علیہا په وړاندې د دُنیا ذِکر وکړو نو اوئې فرمائیل: د قدر قابل څیز ذِکر کولے شي، د څهٔ چې څهٔ حیثیت نه وي د هغې ذِکر نشي کولے۔ (1)

معلومه شوه چې د دُنیا د ذِکر نه بچ کیدل بهتر دي، د دې په ځائے ذِکرُ الله وکړئ! د سُبْحٰنَ اللهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وغیره ذِکر کوئ چې په دې به ثواب میلاویږي۔

ذِکر و درود ہر گھڑی وِردِ زباں رہے | میری فضول گوئی کی عادت نکال دو (2)

## اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ به دُعاګانې کولې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اوس د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ یو ځانګړے عادت مبارک واورئ! اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنَّت رحمۃ اللہ علیہ د هر مسلمان د پاره ډیر شفیق وو، که هغهٔ به خپل وو او که پردے، د ټولو د پاره به یې د شفقت او خیر خواهۍ عظیمه جذبه لرله۔ اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ به د خپلو غلامانو دومره خیال ساتلو چې هغوئې د خپلو ❁ عزیزانو ❁ خپلوانو ❁ ملګرو او دوستانو او ❁ د خاص خاص مُریدانو د نومو یو غټ لسټ جوړ کړے وو۔ د سحر د نمونځ نه پس به یې د خپلو اورادو او وظیفو په آخره کښې د دې ټولو د نوم اخستو سره دُعا کوله۔ خلقو به د دې خبرې ارمان کولو چې د هغوئې نوم هم په دې لسټ کښې شامل شي۔ سیِّد ایوب علي صاحب ارشاد فرمائي چې: یوه ورځ زهٔ ډیر

---

1...تاریخ الاسلام للذھبی، الطبقۃ الثامنۃ عشرۃ، ۱۵۰-۴۲۱-رابعۃ العدویۃ، ۴/۵۴۸۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ: 245۔

پریشانه ووم، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه پهٔ بارګاه کښې مې د دُعا د پاره خواست وکړو، هغوئي دُعا وفرمائیله او ورسره یې ما او زما وړور سیّد قَناعت علي ته وفرمائیل: ستاسو د دواړو نومونه هم ما پهٔ لسټ کښې شامل کړي دي کوم چې پهٔ ورو ورو ډیر غټ شوے دے، دا ټول نومونه ما ته یاد دي، روزانه د نوم اخستو سره د ټولو د پاره دُعا کووم- (1)

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلې ادا ده---! چې مونږه پهٔ خپل ځان باندې لږ غور وکړو، ډیر د لرې تللو ضرورت نشته، چرته یوه ورځ د خپل موبائل جائزه واخلو! پهٔ موبائل کښې سَیوکړےشوو نمبرو لسټ (contact list) برسیره کړو! اوئې ګورو! چې پهٔ هغې کښې د څومره کسانو نمبرې سیو دي، یقیناً چې د چا نمبر سیو دے، چرته به ستاسو د هغوئي سره څهٔ نا څهٔ تعلق ضرور پاتې شوے وي، اوس لږ غور وکړئ! چې کله مونږ نـمونځ کوو، د خپل رَبّ پهٔ حضور کښې د دُعا د پاره لاسونه اوچتوو، مونږ د خپل ځان د پاره ډیر څهٔ غواړو، مثلاً ❀ مولیٰ! ما ته د دُنیا خیرونه هم راعطا کړې ❀ مولیٰ! ما ته د آخرت خیرونه هم راعطا کړې ❀ مولیٰ! زما کور کلے ښه کړې ❀ اے رَبِّ کریمه! زما بال بچ ښه کړې ❀ زما اهل و عیال ښه کړې- چرته غور وکړئ چې زمونږ پهٔ موبائل کښې چې دا دومره نمبرې سیو دي، پهٔ دې کښې ❀ زمونږ د ورونړو نمبرې دي ❀ د عزیزانو خپلوانو نمبرې دي ❀ د دوستانو ملګرو نمبرې دي، آیا مونږ چرته د هغوئي د پاره هم دُعا کړې ده--؟ آیا چرته د دُعا کولو پهٔ وخت مو دا خلق پهٔ خیال کښې راغلي دي؟ د ډیر لرې خبرې نه کووم، دا هٔغه خلق دي د کومو سره چې زمونږه څهٔ نا څهٔ تعلق دے یا پاتې شوے وو- مونږ د دوئي د پاره هم دُعا نه کوو، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه شان ته وګورئ! چې هغوئي د خپلو خپلوانو، دوستانو تر دې پورې چې د خپلو مُریدانو د نومونو هم یو لسټ جوړ کړے وو او قربان شم! فرمائي:

1...فیضان اعلیٰ حضرت ص180-

دا ټول نومونه ما ته زباني ياد دي او زۀ روزانه د نوم اخستو سره د دوئي د پاره دُعاګانې کووم-

## د مسلمانانو د پاره دُعا کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له پکار دي چې د خپلو مسلمانانو وروڼو د پاره دعاګانې کوو، د دې عادت جوړ کړو- زمونږه آقا او مولیٰ، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د مسلمانانو نارينؤ او زنانؤ د پاره د بخښنې دُعا وکړي، الله پاک به هغۀ ته د هر مسلمان نارينه او زنانه پۀ بدله کښې يوه نيکي عطا کړي-[(1)]

سُبْحٰنَ الله! اندازه ولګوئ چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر اوسه پورې پۀ اربونو، کهربونو مسلمانان دُنيا ته راغلي دي، صِرف دومره دُعا کول دي: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَلِكُلِّ مُؤْمِنٍ وَّ مُؤْمِنَةٍ (يا الله پاکه! ما او ټول مسلمانان نارينه او زنانه اوبخښې) د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ الله الْكَرِيم!اربونه کهربونه نيکۍ وګټې- الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم-

## پۀ جنازه کښې به يې پۀ کثرت سره دُعاګانې کولې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اعلیٰ حضرت، اِمام اهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوږ مند زړه لرلو، هغوئي به زياتره جنازو له تشريف وړلو او د مړي سره به يې همدردي داسې کوله چې پۀ جنازه او د جنازې نه پس به يې د مړي د پاره پۀ کثرت سره دعاګانې کولې- منقول دي چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې به د کوم خوش قِسمته جنازه کوله نو حاضرينو ته به داسې ښکاريدله چې هغوئي پۀ خپل پېرزوره شفاعت سره د هغوئي بخښنه کوي او ډيره اوږده جنازه به يې کوله، ظاهري سبب به د دې زيات وخت دا وو چې هٔغه ټولې دعاګانې

---

[1]...جامع صغير، صفحه:513،حديث:8419-

کومې چې په حدیثونو مبارکو کښې راغلي دي، ټولې به يــې کولې- (1)

## کاش چې هغهٔ زما جنازه وکړي

يو سيِّد صاحب وو، هغهٔ به فرمائيل چې د هر انسان خپل ژوند ډېر خوښ وي او زما هم خپل ژوند ډېر خوښ دے خو صرف په دې وجه چې اعلیٰ حضرت زما جنازه وکړي او ما [په الله پاک باندې] اوبخښي، زهٔ غواړم چې زهٔ د اعلیٰ حضرت په ژوند کښې وفات شم او هغوئي زما جنازه وکړي، کوم چې زما د بخښنې سبب جوړ شي- (2)

## د بخښنې سبب څهٔ جوړ شو---؟

په بريلي شريف کښې نواب عزيز احمد نومې يو صاحب اوسيدو- په ظاهره د هغوئي ژوند په نيک اعمالو کښې نه وو تير شوے، چې هغوئي کله وفات شول نو اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د هغوئي جنازه وکړه- وروستو هٔغه نواب عزيز احمد صاحب د هغوئي کور وداني په خوب کښې وليدلو، څهٔ ګوري چې نواب صاحب په ډېر ښه حالت کښې دے- کور وداني ترينه پوښتنه وکړه: ستاسو د بخښنې څهٔ سبب دے؟ نواب صاحب ووئيل: اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ زما جنازه وکړه او دومره دُعاګانې يــې وکړې چې زما ټول ګناهونه اوبخښلے شول! (3)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زما د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ ---!!

| | |
|---|---|
| مصطفیٰ کا دُلارا ہمارا رضا | غوثِ اعظم کا پیارا ہمارا رضا |
| جس کو سب اچھے کہتے ہیں اچھے میاں | ہے اس اچھے کا اچھا ہمارا رضا |
| غم نہیں حشر سے مجھ کو کچھ اے محبؔ! | ہے مدد کرنے والا ہمارا رضا |

1...فیضان اعلیٰ حضرت ص181-
2...فیضان اعلیٰ حضرت ص181-
3...فیضان اعلیٰ حضرت ص181-

## آیا مونږه جنازه زده کړې ده---؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د زدکړې خبره ده---! په حدیثونو کښې چې د جنازې ځومره دعاګانې ذِکر شوې دي، اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ ته ټولې زباني یادې وې او چې کله به هغوئي جنازه کوله نو د مړي د خیر خواهۍ کولو سره به يې ټولې دعاګانې کولې- اوس غور وکړئ! ❀ آیا مونږ ته د جنازې صِرف یو دُعا یاده ده؟ ❀ په جنازه کښې څو فرض دي؟ ❀ د دې رُکن څۀ دے؟ ❀ د جنازې نیت به څنګه کوې؟ ❀ د جنازې والا ثنا کومه یوه ده؟ ❀ د جنازې والا دُرُودِ پاک کوم یو دے؟ د بالغ نارینه او زنانه د جنازې دُعا کومه یوه ده؟ ❀ د نابالغه ماشوم او ماشومې د جنازې دُعا کومه یوه ده؟ آیا دا هر څۀ مونږ ته معلوم دي؟ افسوس چې مونږ د دِین نه دومره لرې وتې یو چې نن سبا ډیرو زیاتو مسلمانانو له د جنازې طریقه نه ورځي، عموماً چې کله جنازه کوي نو اِمام صاحب د دې طریقه ښائي خو په بَل ځل بیا هیره وي-

تاسو ته معلومه ده؟ جنازه فرض کفایه ده- که چرته مړے وشو، که چرې د هغۀ جنازه وکړے شوه نو بیا خو د ټولو غاړه خلاصه شوه او که د هغۀ جنازه اونه کړے شوه نو څوک څوک چې خبر شوي وي، ټول به ګنهګار وي- (1)

## مړي ته په قبر کښې وړومبۍ تحفه

❀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نه چا پوښتنه وکړه: مؤمِن چې قبر ته داخل شي نو هغۀ ته د ټولو نه وړومبۍ تحفه څۀ ورکړے کیږي؟ نو ارشاد يې وفرمائیلو: د هغۀ جنازه کوونکي بخښلے کیږي- (2) ❀ رسولِ عربي، مکي مَدَني صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

1... تجہیز و تکفین کا طریقہ، صفحہ: 25-
2... شُعَبُ الْاِیمان ج ۷ ص ۸، رقم ۹۲۵۷-

وفرمائیل: چې کله څوک جنَّتي کَس وفات شي، نو الله پاک حیا فرمائي چې هٰغه خلقو له عذاب ورکړي کوم چې د هغهٔ جنازه وړي او کوم چې پهٔ هغې پسې وروستو روان وي او څوک چې د هغهٔ جنازه وکړي- [1] پهٔ یو بَل حدیثِ پاک کښې دي: کوم کَس چې (د ایمان د تقاضې ګڼلو سره او د ثواب حاصلولو پهٔ نیت) د خپل کور نه د جنازې سره روان شي، جنازه وکړي او د دفن کیدو پورې د جنازې سره پاتې شي **د هغهٔ د پاره دوه قِیراطه ثواب دے،** پهٔ کوم کښې چې هر قِیراط د اُحُد (د غر) برابر دے او کوم کَس چې صرف جنازه وکړي او واپس لاړ شي نو د هغهٔ د پاره یو قِیراط ثواب دے- [2]

وګورئ چې دا څومره ښکلي ښکلي فضائل دي، د جنازې کولو څومره نیکی دي--!! مونږ چې د چا جنازه وکړو، څهٔ پته لګي چې هغهٔ جنَّتي وي او د هغهٔ پهٔ برکت مونږه هم اوبخښلے شو--!! خو افسوس چې مونږ له خو جنازه کول هم نهٔ راځي، مونږ ته خو د جنازې دعاګانې هم یادې نه دي- خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له دا خبرې زده کول پکار دي! مونږ اَلْحَمْدُلِلّٰه! مسلمانان یو او د مسلمان د پاره خو دا ټولې بنیادي خبرې دي ❁ چې د اوداسه طریقه مونږ له راځي ❁ د اوداسه فرائض راته معلوم وي ❁ د اوداسه سُنَّت راته معلوم وي ❁ د نـمونځ طریقه راله راځي ❁ د نـمونځ فرائض او واجبات مونږ له راځي ❁ د صحیح تجوید او قراءَت سره مو د قرآنِ کریم لوستل زده کړي وي ❁ جنازه مونږ له راځي ❁ د اوده کیدو، راپاڅیدو ❁ خوراک څښاک ❁ کور ته د راتللو ❁ د کور نه د تللو وغیره څهٔ بنیادي بنیادي سُنَّت هم مونږ ته یادیدل پکار دي-

د دې ټولو د زده کولو یوه اسانه طریقه عرض کړم؟ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِیني تحریک

---

1...اَلْفِردَوس بماْثُور الْخِطاب ج۱ص ۲۸۲ حدیث ۱۱۰۸-
2...مُسلِم ص ۴۷۲ حدیث ۹۴۵-

دعوتِ اِسلامي هر وخت مونږ ته پهٔ دِين ښودلو کښې مصروف دے- عاشقانِ رسول ❁ پهٔ جوماتونو ❁ کارخانو کښې ❁ سکولونو او کالجونو وغيره کښې مدرسة الـمدينه بالغان لګوي- ❁ پهٔ مدرسة الـمدينه بالغان کښې د زيات عمر اِسلامي وروڼو ته قرآنِ کريم د صحيح تجويد او قراءَت سره ښودلے شي ❁ د اوداسه، غسل، نـمونځ او د جنازې احکام او مسئلې ښودلے شي ❁ سُنَّت هم ښودلے شي او ❁ د ترجمې او د تفسير د لوستلو او اوريدو موقع هم ميلاويږي- پهٔ **حديثِ پاک کښې دي:** پهٔ تاسو کښې بهتر هغهٔ دے څوک چې قرآن زده کړي او [نورو ته يـې] وښائي- [(1)] ❁ **پهٔ يو بَل روايت کښې دي:** کوم کَس چې قرآنِ کريم زده کړو، اوئې ښودلو او څهٔ چې پهٔ قرآنِ کريم کښې دي پهٔ هغې باندې يـې عمل وکړو، قرآنِ کريم به د هغهٔ شفاعت کوي او جنَّت ته به يـې بوځي- [(2)]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** هم نن ځان ته د لګيدونکې نزدې مدرسة الـمدينه معلومات حاصل کړئ! او پهٔ هغې کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د وَليانو فيضان به مو نصيب شي، سُنَّت به زده کړئ او پهٔ ټوله دنيا کښې به د سُنَّتو پيغام عام کوونکي جوړ شئ- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يو څو نور ښه عادتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د يو څو ښو ښکلو ښکلو عادتونو ذِکرِ خير واوريدو، راځئ چې مختصر مختصر يو څو نور عادتونه واورو: ❁ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به پهٔ نورو پسې مَلَنډې نه کولې ❁ چې اسويلے به ورتللو نو پهٔ ګوته

1…بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیر کم من…الخ، صفحہ:1299، حدیث:5027۔

2…کنز العمال، کتاب الاذکار، الباب السابع فی تلاوۃ القرآن…الخ، جلد:1، جز:1، صفحہ:266، حدیث:2373۔

باندې به يې چک لګولو او څۀ اواز به يې نه کولو ❁ خُلې ته د اوبو اچولو پۀ وخت به يې ګڼ لاس د ګيرې پۀ ويښتو باندې کيښودلو او د سر ښکته کولو سره به يې اوبه د خُلې نه غورځولې ❁ د قبلې طرف ته يې چرې هم لاړې نه توکلې ❁ د قبلې طرف ته به يې چرې هم ښپې نه غزولې ❁ جُمعه به يې د عمامې سره ورکوله ❁ مسواک به يې کولو ❁ د هغوئي ظاهر او باطن يو وو، څۀ چې به يې پۀ زړۀ وو هم هغه به يې پۀ خُله وو، څۀ به يې چې پۀ خُله باندې فرمائيل، پۀ هغې باندې به يې عمل هم کولو ❁ د دِين پۀ معامله کښې به يې د چا مخ ملاحظه نه کوله ❁ هغوئي د غير مسلمو پۀ حق کښې ډير سخت وو خو د سُنّي عاشقانِ رسول پۀ حق کښې ډير شفيق او نرم زړۀ والا وو ❁ د عاشقانِ رسول علمائے کرامو سره چې به يې ملاقات کيدلو نو هغوئي ته به يې د کتلو سره زړۀ باغ باغ کيدلو او د هغوئي به يې کمال عزت کولو ❁ که څوک صاحب به د بيت الله شريف د حج کولو نه پس د هغوئي پۀ خدمت کښې حاضر شو نو د هغوئي نه به يې وړومبے دا پوښتنه کوله چې د سيدِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بارګاه مبارکې ته دې حاضري کړې وه؟ که هغۀ به آؤ وکړل نو فوراً به يې ورله ښپې ښکلولې- ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ميلاد مبارک محفل کښې به تر آخره پورې پۀ دواړو زنګونانو (يعني د التحيات پۀ شکل کښې) کښيناستلو، صِرف د صلوٰة و سلام پۀ وخت به ودريدلو ❁ د هغوئي د دربار نه به څوک هم خالي لاسونه نه تلل- (1)

| | |
|---|---|
| حُسنِ سیرت سے مُزَیَّن تھے اِمام احمدرضا | مُنْفَرِد اُن کے خَصائل اور نِرالی تھی ادا |
| اُن کی جملہ خوبیوں پر خوبیوں کو نَاز تھا | کیونکہ اُن کی زندگی کا مُنْفَرِد انداز تھا |
| پیکرِ خُلق و مُرَوَّت، ذات تھی قُدسی صِفات | عِطر آگیں اور پاکیزہ تھے اوراقِ حیات |

1...ماخوذ از فیضان اعلیٰ حضرت، ص110-113 بتغیر وحیات اعلیٰ حضرت، 1/143 (کشمیر انٹر نیشنل پبلیشرز)۔

پاک طِینَت، نیک خصلت،نرم دل،سادہ مزاج | حُسنِ کردار و عمل کا خوبصورت اِمتِزاج
تھے حَلِیمُ الطَّبع وہ، اِخلاق تھا کافی بلند | اِس لئے اہلِ محبّت اُن کو کرتے ہیں پسند

الله پاک دې مونږ ته هم د داسې ښکلو ښکلو عادتونو اختیارولو، د سُنَّتو د زده کولو او نورو ته د ښودلو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مَدَني قافله

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي په ټوله دُنيا کښې د دِين پيغام عام کولو کښې مصروف دے ❁ په زړهٔ کښې د عشقِ رسول د شمعې بلولو ❁ د صحابهٔ کرامو او د اهلِ بيتو د فيضان ❁ د غوث او د خواجه فيضان ❁ او د رضا د فيضان مونډلو د پاره تاسو هم د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! د دعوتِ اِسلامي په 12 ديني کارونو کښې ښه پوره عملي طور برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! د دين او د دنيا بے شميره برکتونه به مو نصيب شي-

❁ بے شکه د نيکۍ دعوت ورکول، په دې لاره کښې سخته تيرول د انبيائے کرامو علیہم السّلام سُنَّت دي، ❁ د دِين کار په سختو تيرولو، په قربانو ورکولو کيږي ❁ انبيائے کرام علیہم السّلام ❁ صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم ❁ نيکان خلق به د نيکۍ د دعوت ورکولو د پاره د خپلو کورونو نه وَتَل ❁ لرې پرتو علاقو ته به تلل ❁ هجرت به يې کولو او سخته به يې تيروله او د دين پيغام به يې عام کولو ❁ د مخکښينو خلقو په قربانو مونږ ته دِين رارسيدلے دے-
❁ د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي هم په دې لاره باندې روان دے ❁ په ټوله دنيا کښې د دِين د پيغام عام کولو د پاره په لکونو عاشقانِ رسول د مَدَني قافلو په شکل کښې ملک ملک، ښار ښار، کلي کلي ته ځي او د نيکۍ دعوت عام کوي ❁ د مَدَني قافلو په برکت

باندې ډېرو کافرانو کلمه وئيلې ده او مسلمانان شوي دي ❀ د لکونو په ژوند کښې د نيکو سپرلے راغلے دے ❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د 3 ورځو، 12 ورځو، يوې مياشت او د 12 مياشتو قافلې سفر کوي-

❀ تاسو هم په مَدَني قافله کښې سفر وکړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! ډېر برکتونه به مو نصيب شي ❀ په مَدَني قافله کښې فرض عِلمِ دِين ښودلے شي ❀ سُنَّت ښودلے شي ❀ د تهجدو کولو سعادت ميلاويږي ❀ د نيکۍ د دعوت عام کولو موقع ميلاويږي ❀ د قافلې په برکت سره د عاګانو پوره کيدو ❀ د سختو لرې کيدو ❀ د بيمارانو د شفا نصيب کيدو هم په سوونو واقعات دي ❀ داسې هم شوي دي چې په مَدَني قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګيرنې د پاره خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائيلے دے، په خوب کښې يې تشريف راوړے دے او په قافله کښې برخه اخستونکو له يې ديدن ورکړے دے-

چې مونږ په مَدَني قافله کښې سفر وکړو نو څۀ پته لګي چې په مونږ باندې هم کرم وشي-کم از کم هره مياشت د 3 ورځو په مَدَني قافله کښې د سفر نيت وکړئ! راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

## د باغ ځانګو

د حيدر آباد په يوه محله کښې د علاقائي دورې د دعوت نه د متاثره کيدو سره يو ماډرن ځلمے جومات ته راغلو- په بيان کښې په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو ترغيب ورکړے شو نو هغۀ په مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره نوم وليکو- د قافلې په روانيدو کښې لا يو څو ورځې پاتې وې چې هغه ځلمے وفات شو- په کور والؤ کښې يو کَس هغۀ په خوب کښې په داسې حالت کښې وليدو چې هغۀ په يو شين باغ کښې ډېر خوشحاله دے او په

ځانګو کښې ځانګي- خوب لیدونکي ترینه پوښتنه وکړه چې دلته څنګ راغلې؟ هغه ځلمي جواب ورکړو چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره راغلے یم، اللّٰه پاک ډیر کَرم فرمائیلے دے، زما مور ته ووایه چې زما غم نه کوي، زهٔ دلته ډیر پهٔ سکون کښې یم-

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
پاؤ گے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ”کلامِ رضا“ موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اِسلامي د جدید ټیکنالوجۍ پهٔ ذریعه هم د عِلمِ دِین عام کولو کوشش کوي- پهٔ دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي، پهٔ دې کښې یو ایپلي کیشن دے: ***Kalam-e-Raza*** (کلامِ رضا)- پهٔ دې ایپلي کیشن کښې د اِمام اهلسنت اعلیٰ حضرت، اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ډیره مشهوره د نعتونو مجموعه حدائقِ بخشش د حروفِ تهجي د ترتیب سره شامله کړے شوې ده- ❁ پهٔ دې ایپلي کیشن کښې د خپلې خوښې د کلام لټولو (***search***) ❁ د خاص کلامونو پهٔ آډیو (***Audio***) ویډیو (***Video***) کښې د اوریدو یا کتو ❁ او د خپلې خوښې د کلامونو د فیورټ (***Favorite***) کولو او د بیل محفوظ کولو سهولت هُم موجود دے- پهٔ دې ایپلي کیشن کښې پهٔ مَدَني چینل (***Madani Chanel***) لګیدونکې سلسله نغماتِ رضا (پهٔ کومه کښې چې د حدائقِ بخشش د منتخب شوو کلامونو شرح بیان کړے شوې ده هغه) شامله کړے شوې ده ❁ مکمل کلام یا منتخب شعرونه پهٔ سوشل میډیا (***Social Media***) باندې پهٔ آسانۍ سره هُم شیئر کیدے شي- دا ایپ ډاؤن لوډ کړئ او خپل زړهٔ د اللّٰه پاک

د آخري نبي رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ محبت باندې روښانه کړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د عظمتونو والا د فضیلتونو والا د برکتونو والا د شان والا، مبارکه میاشت ربیع الاوّل شریف تشریف راوړونکې ده، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! عاشقانِ رسول به د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جشن پهٔ جوش او جذبے سره کوي- پهٔ دې مبارکه میاشت کښې د ولادت د جشن کولو سره سره د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک سیرت لوستل هم لازمي دي! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مکتبة المدینه د مدینة العلمیه له خوا پهٔ اسانه اُردو کښې لیکلے شوے ډیر ښکلے او مختصر کتاب آخری نبی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کی پیاری سیرت او د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د لیکلے شوې رسالے صبح بهاراں د چاپ کولو سعادت حاصل کړے دے- هم نن د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه کتاب آخری نبی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کی پیاری سیرت پهٔ **180 روپۍ** او رساله صبح بهاراں پهٔ **28 روپۍ** پهٔ بیعه واخلئ-

د **شعبه تقسیم رسائل** له خوا پهٔ ربیعُ الاوّل کښې وړاندې کولے شي ډیر ښکلے فیضانِ میلاد پیکج پهٔ کوم کښې چې **9 غټې** او **2 وړې** رسالے او پمفلټ شامل دے- دا پیکج هم د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه صرف پهٔ **200 روپۍ** پهٔ بیعه واخلئ-

د میلاد پهٔ جلوسونو کښې پهٔ موټر سائیکلو پهٔ ګاډو د لګولو ماشومانو او لویو ګسانو ته پهٔ لاسونو کښې د خوزولو د پاره د مختلفو سائزونو مَدَني جنډې د مکتبة المدینه نه پهٔ بیعه واخلئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدۡ اَحَبَّنِی وَمَنۡ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ښه اخلاق د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامين مبارک: (1): پهٔ ايمان کښې زيات کامِل هغهٔ دے د چا چې اخلاق ښه وي- (2) (2): د ښه اخلاقو نه بهتر مسلمان ته هيڅ خيز نه دے ورکړے شوے- (3)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ښه اخلاق د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي- ❁ حضورِ اقدس صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر يو سره د ښو اخلاقو او محبت سلوک فرمائيلو ❁ نهٔ به يې خوک رټلو او نهٔ به يې سپورې ستغې وئيلې ❁ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم ته به د کتلو سره مُسکے کيدلو، د هغوئي سره، د هغوئي د بچو سره به يې خوش طبعي فرمائيله، ماشومان به يې پهٔ غيږه مبارکه کښې کښينول

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2...ابوداود، کتاب السنہ، باب دلیل علی زیادۃ الایمان، صفحہ:737 حدیث:4682۔
3...شعب الایمان، باب فی حُسنِ خلق، جلد:6، صفحہ:235، حدیث:7992۔

❁ د مریضانو تپوس به یـې کولو ❁ په محفل کښې به چرې هم په غزیدلو ښپو نه کښیناستلو ❁ په سلام کښې به یـې وړومبےوالے کولو ❁ تولو به یـې په ښه نوم سره رابلل ❁ د نورو خبره به یـې نه کټ کوله۔

الله پاک دې مونږ ته هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقو اختيارولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

بنا دو صبر و رضا کا پیکر | بنوں خوش اخلاق ایسا سرور
رہے سدا نرم ہی طبیعت | نبیِّ رحمت شفیعِ اُمّت

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
عِلم حاصِل کرو، جَہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو (1)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:669 ملتقطاً۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صلَّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃُ اللهِ علیه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلَّی اللّٰه علیهِ واٰلهٖ وسلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلَّی اللّٰه علیهِ واٰلهٖ وسلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رضی اللّٰه عنه تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللّٰه عنهم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صلَّی اللّٰه علیهِ واٰلهٖ وسلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص ۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.(1) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.(2) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.(3) راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص ۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص ۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵